سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۶/۰۶/۲۷

# د اسلامي غورځنګونو د کړکیچ سلوک،دوه ګوني متضاد چلند

## د خدايي خدمتګار او د حماس تر منځ یوه پرتلېزه څېړنه

دریمه برخه

د جرمني توبينګن پوهنتون د سیاستپوهنې انیستیتوت
د توبینګن پوهنتون د نړیوال سیاست او د سولې پلټنې څېړنپانه
د جرمني د حبهارډ کارل پوهنتون د نړیوال سیاست، د سولې او کړکېچ څېړنې د نړیوالو اړیکو د مرکز څانګه
څېړنوال : ښاغلی میشایل هورترر
د تحریر هیات : ښاغلی توماس غوش
د څېړنې څېړوونکی : ښاغلی اندریاس حزنکلیور او ښاغلی فولکر غتبرګر
ژباړن : سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

### ۳.۴.۴ د خدايي خدمتګار د مقاومت او د خپلواکی د مبارزې ستراتیجي

باچا خان په خپلو وېناوو کې د ستراتیجي په تاکنه کې د مقاومت تر ټولو غوره او مهمه وسله هم تشریح کوي:

We will withstand with such weapon, with which the ‚tyrants' always met ruination. (…) that weapon is the weapon of ‚Patience'. This weapon is Prophet Mohammed´s (peace be upon him) weapon. This is a tested weapon. (…) You should just think that there was such a time when the Mussalmans in the Holy Mecca were oppressed and the ‚Kaffar' practised tyrannies, in the same way as they are practised today. (…) The Holy Prophet told the disciples to be ‚patient'. You would succeed by the weapon of ‚Patience'." (Khan, zitiert nach Ramu 1992: 28f)

موږ به له دا ډول وسلي سره مقاومت وکړو، چي ظالم تل د اسویلي سره وکتل شي. دا وسله د صبر وسله ده. دغه وسله د حضرت محمد (ص) وسله ده. دا یوه ازمویلي شوي وسله ده. تاسو باید یواځي داسي فکر وکړي. داسي یو وخت و، کله چي په مکي معظمه کي پر مسلمانانو د کفارو لخوا ظالمونه کیدل، نن په ورته ډول په عین شکل سره ظالمونه عملي او تمرین کیږي. پیغمبر (ص) خپلو یارانو ته وویل، چي د زغم څخه کار واخلي، تاسو به د صبر د وسلي له لارې بریالي شی. ( دخان له خولي رامو په ۱۹۹۲ : ۲۸ پانه کي لیکي)

په همدې ډول خان هڅه کوله، چي په مکي معظمي کي د پیغمبر (ص) حالت او د پښتنو د اوسني ژوند حالت تر منځ یوه اړیکي رامنځته کړي او د خپلو هیواد ولو څخه غوښتنه وکړه، چي خان په دي ډول کړنو کي تنظیم او عیار کړئ او څنګه چي محمد(ص) د خپل ژوند لپاره دا طریقه خپله کړي وه، هغسي کړني تر سره کړئ. دا طریقه په دې دول وه، ټول کړاوونه، ټکلیفونه او ناوړه اعمال باید وزغمل شي، لکه څو موده مخکي د خدايي خدمتګار تحریک غړو او لاریوانو د پښور په پیښه کي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

صبر او زغمل تر سره کړي وو [1]. (۲۳) د خدايي خدمتگار غړو له پيله په همدې پرنسيبونو باندې عمل کړي دی. کوم څه چې محمد (ص) او د هغه يارانو او لاروپانو په مکه معظمه کي د ظلمونو پرمهال په خپله پلي کړي وو.يعني مقاومت وکړئ، پرته له دې چې له تاوتريخوالي څخه کار واخيستل شي.

خان د اشغال په حالت باندې لکه چې خدای تعالی په قرآني آيايتونو کي انسانانو ته فرمايلي دي، هماغسي پوهيده او هماغسي عمل کاوه. ده به ويل، چې دا اوسنی حالات يا جگړې په پښتنو باندې تپل شوي، تحميل شوي دي، موږ بايد ثابته او مالومه کړو.

„whether we can keep our patience or not“ (Khan, zitiert nach Ramu 1992: 97, vgl. ebenda: 108).
چې آيا موږ کولالی شو خپل صبر او زغم وساتو او که نه .( د خان له خولې رامو ليکي په ۱۹۹۲ : ۹۷ او هم ښاغلی هبنده : په ۱۰۸ پانه کې ليکي).
په دې توگه اوس پښتانه دې ته را بلل شوي او دعوت کړل شوي دي، چې د محمد (ص) دسنتو بيلگې پلي او عملي کړي. څنگه چې پيغمبر (ص) په مکې معظمه کې خپل ژوند تيرکړي دی. کله چې تاسو خپل ځانونه په دې طريقه کې سم اعيار کړي، د تاسو سره به د خدای تعالی مرسته وشي او په دې باندې باور وکړي. ځکه، لکه يو مرسته کونکي خدمتگار د ناروغانو څخه ليدنه کوي.„a helper of one who observes patience“ (ebenda: 30)
هغه څوک چې صبر کونکي او صابر پاتي شي، د ده سره د خدای تعالی مرسته حتمي کيدونکي ده.
د کوم مذهب لاروپان چې په دې ډول ټينگ هوډمن صبر کوونکي پاتي کيږي، د بل دليل او استدلال راوړلو لپاره هيڅ يو بل رول نه پاتي کيږي او نه بل رول لوبول کيږي. د خان په خبرو کي نوره شک نشته او دی شک کولو ته هيڅ ځای نه پريږدي، په دې ډول سلوک کې د عدم تشدد کړنې شاملې دي او شتون لري .

„This weapon with the help of which you can make your country free and put an end to its Foreign Government is patience. Understand? It is non-violence. It is quite wrong to think that there is only one method of fighting. This thought is quite absurd. Just look at history. […] Brothers this fight of non-violence and patience is such a fight that no Government has ever been able to hold her own in it. And neither can it do now.” (Khan, zitiert nach Ramu 1992: 64f)

،، د دغي وسلي په مرسته تاسو کولای شي خپل هيواد آزاد کړي او دا بهرنی حکومت پای ورسوي، دا وسله د صبر وسله ده، پوه شوای؟ دا عدم تشدد دی. دا خو بيخي ناسمه خبره ده که فکر کوي، چې د جگړې يواځيني ميتود شته،دا هم متذل او پوچ فکر دی. يواځي تاريخ ته وگوري .... ورونو د عدم تشدد او زغملو دغه جگړه داسي جگړه

---

. Auch daran erinnert Khan in dieser Rede: “Khudai Khidmatgars were thrown from the houses, horses were run upon them, but they remained silent. Our Khudai Khidmatgars were killed by machine guns but we observed ‚Patience’. […] The result of that patience was that the Pakhtun became famous in the whole of the world.” (Khan, zitiert nach Ramu 1992: 29) [1]

۲۳. خان په خپله وينا کې هم د دې يادونه کړې، چې خدايي خدمتگاران د خپلو کورنو څخه بهر غورځولي شوي دي، اسونه پر هغوی باندې هم خيځولي شوي دي، اما هغوي بيا هم ټينگ جامد پاتي شوي دي، زموږ خدايي خدمتگاران په وسلو او ماشين گڼو باندې وژلي شويدی، خو موږ صبر او زغم وليد ، دا د صبر او زغم نتيجه وه، چې پښتانه په نړۍ کې مشهور شول.( دخان له خولې رامو ليکي په۱۹۹۲: ۲۹ پانه کې وگورۍ)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ده، چي دولت نه دی توانيدالي په خپله يې تر سره وکړي. اونه دا اوس لري ،،. ( د خان له خولې رامو په ١٩٩٢ کال : ۶۴ پاڼه کې ليکي).
الهي وړاندويني، د پيغمبر (ص) تجربي او همدارنګه تاريخ موږ ته را زده کوي او داسي ښکارندويي کوي، چي د عدم تشدد ميتودونه برياليتوب ته لاره خلاصوي. څوک چي د عدم تشدد څخه لاس په سر شي، دی له دې امله د الله تعالی د فضل، رحم او مهرباني څخه بې برخې کيږي او خپل برياليتوب له ګواښ سره مخامخ کوي. څکه خان په ډګر او ويښه توګه علانوي، څوک چي د غورځنګ په دننه کې تشدد تبليغوي او يا ورته لاربښوونه کوي، د هغه سړی سمدستي ممانعت کيږي او فوري له غورځنګ څخه ايستل کيږي .
(vgl. ebenda: 3 vgl. ebenda: 108)
د خان مفکوري او عقيدې په بنياد د برياليتوب لپاره پريکړې هلې ځلې او منډې ترړلې يوازې د الله تعالی د خوښې چلند او الله (ج)ته د ښو اعمالو له لارې تر سره کيدای شي. اما دا خبره هيڅکله نه يو ولس او نه د يو مذهب لارويانو پوري تړاو لري.
د خان د عقيدې او مفکورو په اساس پښتانه مجبور دي، پر ځان د صبر زغملو تيرولو په بهير کې ان تر دې حده پوري چمتو واوسي، چې خپل ژوند تر خپلواکی او آزادی قربان کړي. لکه څنګه د خدايي خدمتګار غورځنګ د مرامنامې د لوړې په متن کې هم دا شان شتون لري. د خدای خدمت دا مانا هم لري، چي د عدم تشدد پرنسيپونه بايد تر مرګه يا ورستی سلګې پوري تعقيب کړل شي. له دې سره دی د خدای تعالی په لاره کې مرګ ته يوه با عزته مانا ورکوي او ور باندې تاکيد کوي(vgl. edenda: 30)
همداسې شان شهادت تل د عدم تشدد سره د يوې ضروري يا امري کړنې په حيث د نږدې نه په اړيکه کې پاتې کيږي. د خان په اند، هغه کسان چې په دې لاره کې تللي او يا د دې لارې څخه اطاعت کوي، د دوی پرمخ د جنت لاره يا دړه خلاصه ده.
سربير پردې خان په خپلو وينااو کې انګريزي نيواکګرو ښکېلاکګرو ته جوتوي، چې دی هر وخت يو سوله ييز حل او سوله ايېز جوړجاړي ته چمتو دی..
„I say that if he [Firangi,.] makes peace even now, we are ready.“ (Khan, zitiert nach Ramu 1992: 28)
"زه وايم چې که هغه( پيرنګي) اوس سوله کوي، موږ ورته چمتو يو( د خان له خولې را مو په ١٩٩٢ کال : ٢٨ پاڼه کې ليکي )
سولې ته د خان چمتووالي او ژمنتوب د يو تړون پر بنسټ په دې عقيده او اساس ولاړ وو، لکه څنګه چې محمد (ص) د يهودانو، عيسويانو او مشرکانو سره د سولې او روغې جوړې يو تړون تر سره کړي وه. د خان په وينا کې. له همدې کبله مسلمانانو ته دعوت ورکړل شوي دی، چې د اسلام د پرمختګ لپاره او د خپلواکی ترلاسه کولو لپاره دا ډول ژمني،پريکړې او تړونونه تر سره کړئ..(vgl. ebenda: 55)
په ټوليزه توګه په دې ډول خبرو اترو او ويناوګاني کې په ښکاره او روښانه توګه له ورايه پر عدم تشدد يا عدم خشونت باندې اعتراف کيږي او همداشان اساساً په صراحت او ښکاره توګه خان د زړه له اخلاصه په رېښتني توګه روغې جوړې او ژمنو ته ژمن بريښي.
دواړه پرنسيپونه په مستقيم ډول د پيغمبر (ص) د زماني د کړنې سره په ورته حالاتو کې توجيه کيږي. برياليتوب ته هيلمنتيا په واضع دقيقوکړو وړه کې تر سره کيږي، داسې هم نه ده چې د يو خاص مذهب لارويانو پوري محدود شي. له دې کبله د مقاومت په مبارزه کې د ستراتېجی د ټاکنې په بنسټ کې يو شمير جهانشموله عنصرونه ليدل کيږي او شتون لري.
له دې سره په دې تحقيقاتي شننيزه تحليل کې وښودل شوه، چې د خدايي خدمتګار غورځنګ په بنسټ کې په يوه جګه نړيواله کچه جهانشموليت شتون درلود. او دوی د جهانشموليت پوهاوي، د کړکيچ په موضوع کې او د کړکيچ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولئ

د مخالفینو په درکولو کې او همدارنګه په پای کې د مقاومت د توکو په ټاکنه کې ښودلو ته وړاندې کیږي او رابرسیره کیږي.

## ۴ .۵ د کړکیچن په حالت کې د خدایي خدمتګار غورځنګ چلند

لکه څنګه چې مخکې تشریح کړل شول، پښتنه ټولنه کې د خدایي خدمتګار غورځنګ د جوړښت نه مخکې تاوتریخوالي شتون درلود. د خان د عدم تشدد ویښوونکی ټینګه دوامداره چیغه یا نعره، د خان د عدم تشدد غوښتنواو پایلو مطابق د پښتنو په دودیزه فکر کې، د پښتنو د کړنو ځانګړي بیلګې او چلند تر پوښتني لاندي راوستل شو او ورسره پښتنه ټولنه هم ونګول شوه. خان د دې اړینو توکو لپاره تاسیساتي مرکزونه رامنځته کړي وه.خلکو ته پکې صبر، زغم (*patience*)او له تشدده پرته د لاریوننو ښوونه او روزنه ښودل کیده او په ځانګړي ډول به مشق او تمرین کیدل. پښتنو په دې مرکزنو کې د سیاسي او مذهبي سبقونو زده کړو کې برخه اخیستله. سپورتي لوبې ترسره کولي،د پاکۍ او صفایی چارې تر سره کولي او ټولنیز کارونه تر سره کول، کالی او جامی ګنډل او اوبدل. دا ټول تمرینات او جدي روزنه په یو خاص نظم او ډیسپلین کې ترسره کیدل. په دې روزنیزه مرکزونو کې رضاکارانو پر خپلو عاطفي احساساتو باندې کنټرول حاصلولو او د نویو وسایلو له لارې ښوونه او روزنه ترلاسه کوله. څو دوی څنګه د یوې اغیزمنې پوهې له لارې په یوه روانه تاوده شخړه یا کړکیچ کې تشدد او تاوتریخوالي ته ونه پاروال شي. دوی ته په دې ترینګلي شدیدو حالاتو کې لومړیتوبونه لکه ټولنیزي چارې ستره مانا درلوده. په ځانګړي ډول لکه د زاړویا بوډاګانو او ناروغانو پالنه او همدارنګه د تعلیمي فعالیتونو څارنه کیده. .(vgl. Banerjee 2000: 73ff).

په دې رامنځته شویو بېلابېلو جوړونکي روزنیزه تربیتي پروګرامونو او مرکزنو کې ګڼ شمیر راز راز فورمونه د لاریونونو او د عدم تشدد یا پرته له تاوتریخوالي ترینینګونو عملي ډولونه ترسره کیدل. په ځانګړي ډول هغه ټولنیز فعالیتونه په کې تر سره کیدل، په کومو کې چې د دوی اتکا پر برتانوي استعماري نیواکګر ځواک باندې کمیدل موخه وه. د بیلګې په ډول لکه د خپلو جامو یا کالیوګنډل، اوبدلو او له دې لارې به د برتانوي مالونو د بایکاټولو هڅه کیده، په زیاتیدونکي ډول یو بدیل د خپلو اقتصادي جوړښتونو لپاره وه، څو د نیواکګر ځواک اقتصاد ته اړ نه اووسي. سربیره پردې د خدایي خدمتګار غورځنګ په ټاکنو کې د ګډون هوډ وښود، د مالیه ورکولو څخه ډډه وکړه او د عامه موسیساتو بایکاټول لکه حقوقي اداري، دوی له دې لارې خپلې محکمې خپلواکه کولې. له همدې لارې به هم خپل مقاومت ته دوام ورکاوه او هم خپلو لاریونونه په عامه توګه قانوني رسمیت ورکولو، په داسې حالت کې به دوی د خپلو مارشونو او لاریونونو لړۍ تر کلیو او بانډو پورې رسوله او هلته به یې خلک د خپل مقاومت لپاره چمتو او سمبالول.(vgl. ebenda: 91ff)

د پښتنو خپله ستره خپلواکي، خودمختاري یا خودارادیت او د دوی پراخ وسیع بنیاده، ټینګ او اوږد مقاومت په وړاندې له بل اړخه پښتانه د انګریزانو د متقابلو جنګي اقداماتو او پراخو پایلو سره مخامخ شول. د پښتنو په وړاندې د انګریزانو غبرګونیزه پروپاګنډه پیل شوه، د پښتنو سره سیاسي سیالي او همداراز د دوی پوپنا کول پیل شول: انګریزانو هڅه کوله د سیاسي او مذهبي پروپاګنډې له لارې، د خدایي خدمتکارانو او د هندې برلاسي کنګرس ګوند ترمنځ یو درز رامنځته کړي او انګریزانو د خان په وړاندې په کور دننه اسلامي مخالف اپوزیسیون ورته پیاوري او ځواکمن کړو. (vgl. ebenda: 103ff)

کله چې پښتونخوا د ۱۹۳۰ مو کالونو را هیسې د ښاروالیو او سمه ییزو ادارو واک لپاره یوه محدوده اندازه حق یا رښته تر لاسه کړه او دا مهال د خان د وړور ګوند د ښاروالیو په خپلواکه اداره کې یو ځواکمن بر لاسي ځواک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ګرځیدلي وو [2].(۲۴ ) د برتانویانو اشغالګر ځواک د مسلم لیک سره په سیاسي او مالي برخو کې په ډیره لوړه کچه کې مرسته او همکاري وکړې. پرته له دې چې د پښتونخوا د اکثریت په اړیکو کې دپام وړ پریکنډه بدلون راوستل شي. ( vgl. ebenda: 175 )

د خدايي خدمتګار غورځنګ په وړاندې د انګريزانو کلک،سر ټکونکي او ځپونکي اقدامات لا شديد ځرګند نوره ډیر شديدشول، چې په دې لړ کې په لويه کچه بندي کول یا توقیفول ترسره شول، سوله ییزه لاریونه په زور او ظلم سره، د دتشدد ډکو اعمالو په تر سره کولو سره پای ته ورسول شول او په دې بهير کې د تحريک ځښت ډیر غړي ووژل شول [3] ( ۲۵ )همداسي اجباري کارونه، په مذهبي او کولتور برخو کې د خلکو بې عزتکول، تحقيرول، ذليلول، په خلکو باندې په زور او اجبار کارکول، جزيه يا بونګه اخيستنه، شکنجه کول، د زور له لارې فحشا ته مجبورول، جنسي تېرى او دې ته ورته نور اجراعات او اقدامات د انګريزانو د اشغالګر ځواک لخوا د پښتنو د ډارونې يا ویره ونې، غلې کولو او تابي کولو لپاره وکارول شول.(vgl. ebenda: 111ff)

پښتونخوا کې د انګريز استعماري نیواکګر ځواک ناوړو عملي کړنو ته په کتو سره او د دوی دا ډول یرغلیزه تیری، له کرکې او نفرته ډک چلندونه او د انګریزانو د د تشدد یوه بیساري بڼې په وړاندې که چیري پښتنو د مقاومت او شخړي حلولو په بهر کې د انګریزانو په ځیر له تاوتریخوالي څخه کار اخیستلي واې، دا یوه حیرانونکي خبره نه بریښېده.

تر اوسه په ټولو تر لاسه شویو نسخو او لاسوندونوکې، چې د پښتنو د تیرمهال پاڅونونه او مقاومتونه په کې پلټل او څېړل شوي دي، د دوی دودیزه جګړه ییزه غریزه (...) بدل دی او دا جګړیزه غریزه په بدل کې رفع کیږي . ( ebende 121 ) پښتانه سره د دې بیا هم د عدم تشدد لوړې ته یا د قسم پرنسیب ته وفاداره او ژمن پاتې شول.

که څه هم ځینو په انفرادي ډول داسي اعتراف وکړ، چې د دوی لپاره دا لار تل کومه اسانه لار نه وه. په ځینو انفرادي مواردو او قضيو کې لاس او ګریوان کيدل یا برتانوي سرتيري په ډبرو ويشتلو راپورونه ورکړل شوي دي،هغه هم په استثنايي مواردو کې. د کړکیچ په حلولو کې د تاوتریخوالي په فورمونو کې د ډير لږ دتشدد له شددت څخه کاراخیستنه شوي دی.

ښاغلي بنرجی په دې توانیدلي او پتیلي، چې دا ډول ځیني ښویيدني یا د ښځو او یا د ډیر ژر تاوديدونکي یا خون ګرمه ځوانانو له خوا تر سره شوي دي. په تيره بيا له هغو کسانوڅخه تر سره شوي دي، چې دوی د خدايي خدمتګار غورځنګ د ښوني او روزني مرکزونو ته نه وو تللي، یا په روزنيزه مرکزنو کې لږ موده روزنه لیدنه. (vgl. ebenda: 122f) لیدلي وه دا د هغي څه ځرګندونه کوي، چې ښوونه او روزنه څومره د عدم تشدد د مقاومت په بریالي تطبیقولو یا پلي کولوکي خورا مهم اهمیت او ارزښت لري.

د ټولو سر چینیو په حواله بې له مخالفي رایي څخه په ګډه سره په یوه خوله او په یو اتفاق سره ویلي شوي دي، چې د خدايي خدمتګارانو له خوا په لوړه کچه تشدد یا تاو تريخوالي هيڅ نه دی کارول شوي او خدايي خدمتګارانو په دامداره او پرلپسي توګه په تینګه اراده د هر ډول وسلو کارولو څخه صرف نظر هم کړي دی.

د خدايي خدمتګارانو د عدم تشدد مبارزه هغه مهال په جدي توګه له سترو ننګونو سره مخامخ شوه، کله چې په ۱۹۴۶ کال د اګست په میاشت کې پر دوی د مسلم لیک لخوا له تشدده او خشونت ډک بریدونه پیل شول. دا بریدونه ډیر ژر د هند ټولي نیمي وچې ته په خپریدو شول .کله چې د مسلم لیک او هندي ملتپالو جنګياليو تر منځ جګړه پیل

---

[2] . ۲۴. د باچا خان ورور ډاکټر خان صيب د صوبې سرحد يا پښتونخوا په حکومت کې د لومړي وزیر دنده ترلاسه کړي وه.

. ۲۵ په دې لاریونو کې چې چا برخه اخیسته،مجرم ته د دووه کالونو بند سزا اوریدل کیده. باچا خان هم څو ځلې د بند په سزا

[3]محکوم شوي دی. په ۱۹۳۹ کالونو کې خان ډیره موده صوبه سرحد يا پښتونخوا ته د بيرته تګ څخه منع کړل شوي وه.

شوه، په پښتونخوا کې غیر مسلمان لړکي د ګوانښونو سره مخامخ شول، دا لړکي د بې وسلې خدايي خدمتګارانو له حمايت او ساتنې څخه برخمن شول..(vgl. Easwaran 1984: 175; Tendulkar 1984407:)
د تشدداو تاوتريخوالی په خپل قوت، شددت او زور سره په زياتيدونکي ډول روان وو. د جګړو په بهير کې د مسلم ليک له خوا د خدايي خدمتګارانو غړي هم ووژل شول.
په همداسې يو وضعيت کې د باچاخان زوي غني خان د ځلمي پښتون غورځنګ ډلې بنسټ کيښود. دا ډله په دې موخه جوړه شوه، چې د خدايي خدمتګار له غړو سره په خپل ماموريت په دوران کې د وسلو او د زورکاروني له لارې ملاتړ وکړي. يو شمير پښتانه ځوانان د ځلمي پښتون له ډلې سره يو ځای شول، په داسې حال کې په ښکاره ډول د پښتنو ځوانانو ستر برخه د خدايي خدمتګار له غورځنګ سره پاتې شول. دوی همداسې په دوامداره توګه د عدم تشدد له لارې خپل مقاومت ته د يو متحد ناويشل کيدونکي او خپلواک هند د پاره مبارزه کوله . (Vgl. Tendulkar: 418; Banerjee 2000: 186 f)
په عين حال کې يو ناڅاپه او نا ببره پښتانه او د خدايي خدمتګار غورځنګ د يوې سياسي زلزلې سره مخامخ شول. د ګاندي او د خان د رايي په وړاندې د هند په کانګرس ګوند کې د ورستي اخو ډب او بلوا له امله دا نظر برلاسي شوه، چې دا تاوتريخوالی يواځې د هند د نيمې وچې د ويشلو له لارې په دومداره توګه کنټرول ليداې شي. په دې اساس په نتيجه کې د کانګرس ګوند د مشرانو له خواد Mountbatten- Plan ومنل شو .
د دې پلان له مخې د هند د نيمې وچې ويش په دوو دولتونو کې هند او پاکستان په نامه په پام کې نيول شوي وو[4].
(۲۷)د پښتونخوا وګړي بايد د يوې ټولپوښتني يا ريفرنډم له لارې پريکړه وکړي، چې دوی په پښتونخوا کې د هند يا پاکستان سره يو ځای غوښتل غواړي [5] ( ۲۸) د خان په اند پښتانه د ګانګرس ګوند د مشرتابه او رهبري له خوا، د ليوانو په خوله کې ورکړل شول.، .(Khan 1969: 204) خان ليکي,
دغي ټولپوښتني خدايي خدمتګار غورځنګ ته د قناعت وړ حل نشو چمتو کولی [6] (۲۹). د خدايي خدمتګار غورځنګ د بايکاټول سره ډير لږ شمير خلکوپه دې ټولپوښتنه کې ( د پښتونخوا د لسو سلنې څخه لږ و ګړو ) برخه واخيسته. د دې لسوسلنه خلکو څخه ۹۹ سلنې پښتانه پاکستان پورې اړه درلودلو غوره وبلل.

---

. له دې امله د خدايي خدمتګار غورځنګ په شوک کې شوې و ، ځکه دوی د کالونو په اوږدو کې د کانګرس له ګوند سره په ګډه د يو
[4]خپلواک متحد هند لپاره دريدلي و.

۲۷. دا پريکړه ليک هم په غصه شوي او قهرجن خدايي خدمتګار غورځنګ ته: او هم د نور ټولو صوبو يا ولايتونو ولسي جرګو ته واستول شو ، چې هند يا پاکستان پورې اړه درلودل بايد تصويب شي. خو پښتونخوا کې چيرته چې د خان د ورور ګوند مطلق اکثريت
[5](۲۸)درلود ،د هغې يا د پښتونخوا ولسي جرګه د دغې پريکړه ليک له تصويبي د ندې څخه محرومه کړل شوې وه.

. که په ټولپوښتنه کې پښتونخوا د نوي هندي دولت د پنجاب يوې برخې په توګه رايي ورکړې واې، داسې ښکاري چې پښتونخوا د نوي پاکستاني دولت برخه په توګه ،پرته له دې چې د يو هندي ولايت سره نښلولې شوې واې، د هند له احاطه نه بهر شتون درلود. که پښتانه په ټولپوښتنه کې د هند سره يو د يوې جلا سيمې په توګه يوځای شوې واې، هغو مشرانو يعني (د هند مشرانو ) چې دوی ( پښتانه ) يوازې د يو پاکستاني دولت د غړيتوب ته پريښودلي وه، د خپل جوړښت او خپل راتلونکي حکومت په وړاندې د ليسزو لپاره سياسي جګړه يا د سياسي مبارزې پريکړه بايد کړې واې. له دې امله خان دا غوښتنه وکړه، چې پښتنو ته بايد لږترلږه د دې اجازه وکړل شي، د ځان لپاره د يو خپلواک پښتونستان پريکړه وکړي. د کانګرس مشرتابه دا مفکوره د دې ويرې له امله رد کړه، چې د نورو بيلتون پالنې هڅو يا د تجزيه طلبي ارمانونو مخه ونيل شي.

دا چي پښتونخوا د پاکستان يوه برخه شوه. خدايي خدمتګار غورځنګ د ويښ تر پايه عدم تشدد ته ژمن پاتي شو. خو په پاکستان کي دغه تحريک ژر تر ژره منع اعلان کړل شو. د تحريک ټول مشران له حده ځنبت ډير د بند په سزا محکوم کړل شول.
په ۱۹۶۴ کال کي کله چي پاچا خان له بنده خوشي شو، خان پريکړه وکړه، د پاکستان څخه نور ووځي او په افغانستان کي خپل ژوند ته دوام وکړي. چيرته چي دی په ۱۹۸۸ کال کي د ۹۸ کلن عمر کي ومړ

.

## ۴ .۶ د څېړني د لومړني برخي پايله

د تر سره شويو څېړنيزو تحليلونو ورسته د خدايي خدمتګار غورځنګ په نړيواله لوړه کچه يو جهانشموله ِغورځنګ پيژندل کيږي.. د دوی دا جهانشموليت د کړکيچ موضوع او د کړکيچ د مخالفينو په اړه ليدلوري تر خپل اغيز لاندې راوستلي دی. د جهانشموليت يا نړيوالتوب له لاري خان غوښتل، چي خپل پلويان او خپل لارويان لکه په مکي معظمه کي د پيغمبر (ص) د کړنو په څير پرته له هر ډول تاوتريخوالی څخه خپل مقاومت تر سره کړي. دا هغه لار وه، چي دي غورځنګ د څه باندي يوې نيمي لسيزي په بهير کي د يوځو انفرادي استثناوو پرته، په ټينګه اراده، په پرليسي او دوامداره توګه په ډيرو پيڅلو حالاتو کي پرته له تاوتريخوالي او تشدد د خپلواکي په مقاومت کي برخه اخيستلي ده. په دي توګه د خدايي خدمتګار تحريک ته د کړکيچ په حلولو کي په يوه لوړه کچه د عدم تشدد عمل ور په برخه کړل شوي دی. که بيا هم دا ناشوني وي،چي د دواړو متغيراتو ترمنځ بي له شکه يو ارتباتي تړاو نه رامنځته کيږي . بيا نو همدا ډول د محتوياتو لنډ ليک په ۳.۲ نمبر شميره کي دا تمي فورمولبندي شوي دي. په دي اساس کله چي د يو غورځنګ په بنسټ کي جهانشموله پوهاوي شتون ولري، څه شي چي په ډير قوي احتمال سره عدم تشدد يا تاوتريخوالي پرته کړکيچ ته د حل لار موندل رابرسيره کولالی شي. د دي خبرې ثبوت ته په دي لومړني قضيه کي او د دي سره د سترو متحولونو بيان ته او د پيښو حلولو ته ورسيدو.

د دريمي برخي پای

ژباړن : . کله چي د خدايي خدمتګارانو او د پښتنو ننګيالو ځلميانو د لر او بر يو افغان شعارونه د پيښور په چوک يادګار کي، د خيبر او توخم په لاره کي ورکول،د اسلام اباد پوځي ديکتاتورانو او پنجابي منافقو جنرالانو د ساړه جنګ په مهال خدايي خدمتګاران يا سرخپوشان يي لويديځ او امريکي ته د روسانو مخته راليږل شوي استازي او ګوډاګي په څير ورپيژندل.
ځيني خلک بيا حيران دي او نه پوهيږي، چي باچاخان څنګه دومره پښتانه د عدم تشدد په لاره روان کړل. او ځيني خلک بيا داسي ګمان کوي، چي باچاخان د عدم تشدد فلسفه او تګلاره د مهاتماګاندي څخه خپله کړي ده. دا ټول يوغلط فکر او ناروا برداشتونه د يوي ربښتني مبارزي په اړه،چي باندي يوي نيمي لسيزې خپل مقومت ته دوام ورکړو . د مهاتماګاندي خپله هندي فلسفه وه او ګاندي جي تر اخره د عدم تشدد په لار کي و نه دريد. د باچاخان د عدم تشدد فلسفه يوه اسلامي جهانشوله فلسفه وه. د جرمني محققينو او پوهانوپه خپله ژوره تحقيقاتي شننيزه څېړنه کي موندلي او ثابته کړي ده، چي خان خپله د عدم تشدد او آزادي غوښتونکي سوله ييزه مبارزه د پيغمبر (ص) د

---

(vgl. Banerjee 2000, S, 187f). (۲۹ )[6]

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

سنتو په پل او طریقه کې پیل کړي ده. د لوی هند او د لوی افغانستان د خانانو خان باچاخان د عدم تشدد وسله د حضرت محمد (ص) د صبر او زغم ازمویل شوي وسله وه. باچاخان یو رینتني نه هیریدونکي بې وسلې په نړیواله کچه پیژندل شوي جهانشموله مسلمان افغان مجاهد دی. الله (ج) ته په روی د محمد (ص) او د روژي مبارکي میاشت د یوویشتمي په برکت خان ته او د خان لارویانو ته جنت فردوس په نصیب وګرځوي. آمین


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ